د مطبوعاتو نړیوالې ورځې په مناسبت د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مطبوعاتي اعلامیه!




د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت رهبري پلاوی ټولو خبریالانو، د بیان ازادۍ فعالانو، رسنیو او د مطبوعاتو کورنۍ ته د مطبوعاتو نړیوالې ورځې په پار مبارکي وایي او د دې ورځې نمانځنه د افکارو، نظر څرګندولو او بیان ازادۍ فرهنګ د عامولو نښه ګڼي.

بې له شکه، په ډیموکراتیکو او ولسواکو ټولنو کې مطبوعات او رسنۍ د ټولنې څلورم ستون ګڼل کېږي او د عامه ذهنیت په روښانه کولو او بدلون کې رغنده رول لوبوي .

همدارنګه رسنۍ د حکومت او حکومتي چارواکو د کړنو د څار لپاره د غوره او اغېزناک چېنل په توګه مهمه دنده ترسره کوي.

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت ژمن دی، چې رسنیوالو او ژورنالیستانو ته د تل په څېر ځواب ویونکي واوسي او همېشه د دې اداري د فعالیتونو او لاسته راوړنو په اړه پوره معلومات په واک کې ورکړي .

همدا راز دغه وزارت چمتو دی چې معلوماتو ته د لاسرسي قانون او د رسنیو اړوند نورو قوانینو سره سم معلوماتو ته د لاسرسي زمینه برابره کړي.

رسنۍ د دولتي چارواکو پر فعالیتونو او اجرااتو د څار ترڅنګ مسوولیت لري، چې مسوول چارواکي ټولنې ته ځواب ویونکي کړي او د فساد پروړاندې مبارزه کې اغېزناک رول ولوبوي.